SHARIAT WEEKLY

شریعت

اوونیزه

په اوونی کې دوه ځله خپرېږي

دافغانستان د اسلامي امارت مرکزي نشراتي ارګان

دریم کال اته شپېتمه ګڼه پرله پسې (۱۶۸) چهارشنبه د۱۴۱۹هق کال دجمادي الاخر (۱۰)د۱۳۷۷ هـ ش کال د تلې دمیاشتې(۸) د۱۹۹۸میلادي کال د سپتمبر (۳۰)

به تأسي از فرمان عالیقدر امیر المؤمنین :

هیئت تنظیم امور اداري و بررسي شکایات اهالي ولایت شمال کشور به کار آغاز نمود

به تأسي از فرمان عالیقدر امیر المؤمنین هیأت عالیرتبه تحت سرپرستي محترم الحاج ملا نورالدین ترابي سرپرست وزارت عدلیه غرض تنظیم امور اداري ولایات صفحات شمال کشور و غور و بررسي شکایات مردم متدین آن ساحات توظیف گردیده به کار خویش در شهر مزار شریف آغاز نمودند.

آژانس اطلاعاتي باختر خبر میدهد هیئت متذکره که متشکل از وزراء معینان و رؤساء تحت سرپرستي محترم سرپرست وزارت عدلیه مي باشد در شهر مزار شریف به کار خویش آغاز نمودند.

در اجتماعي که بهمین مناسبت در مسجد جامع روضه، حضرت علي کرم الله وجهه تدویر یافته بود ابتدا آیاتي چند از قرآن مجید تلاوت گردیده سپس محترم ملا فیض احمد فیض رئیس اطلاعات و کلتور ولایت بلخ ، بیانیه مقدماتي خویش را ایراد نمود.

سپس محترم الحاج سید غیاث الدین آغا سرپرست وزارت معارف ،

ص«٤»

الهي فرمان

عدل (انصاف) وکړئ تاسې ! همدا (عدل) ډېر نږدې دی تقوا(پرهیزګارۍ) ته .

(سورة المائدة)

توجه!

ایمان شما اجازه نخواهد داد که اوراق حامل چنین کلمات مقدس را بي حرمتي بگذارید.

به مناسبت سالروز فتح کابل محافل ختم قرآن عظیم الشان تدویر یافت

به مناسبت سالروز پر برکت و افتخار آفرین ششم میزان که مصادف امیت به فتح ظفر مندانه کابل ختم هاي قرآن عظیم الشان در مرکز و ولایات کشور صورت گرفت ..

آژانس اطلاعاتي باختر خبر میدهد در محافل ختم هاي قرآن عظیم الشان ضمن آنکه بر روان پاك شهداي راه نجات مردم از آلام و مصایب اتحاف ادعیه صورت گرفت سخنراتان فتح ظفر مندانه کابل و سایر ولایات کشور را در ششم میزان سال ۱۳۷۵ چرخش عظیمي در تاریخ کشور بر شمرده و تجلیل از این روز تاریخي را موفقیت بزرگي براي ملت قهرمان و مجاهد

ص«٤»

ایراني ژورنالستانو د هغه هیواد پر خلاف په اعتراض لاس پورې کړ

دوه سوه پنځه شپېته تنو ایراني ژورنالستانو په هغه هیواد کې د منځلارو مطبوعاتو پر ضد د وروستي مبارزي په خاطر په اعتراضونو لاس پورې کړ .

ژورنالستانو د بوي وینا په ترڅ کې چې د هغې په پای کې یې تومونه لیکل شویدي په هیواد کې د منځلارو مطبوعاتو پر ضد د غیر قانوني اقداماتو په ارتباط احتجاج وکړ . او په مطبوعاتي سرغړونوکي یې د غور په خاطر د هیواد د اساسي قانون د درناوي غوښتنه وکړه .

ژورنالستانو دغه راز د هیواد د قضائیه قوي نه د ژورنالستانو له پاره د مدافع وکیلانو د ټاکلو غوښتنه وکړه .

ځلورم مخ

د بامیانو ولایت د بولو ولسوالیو د فتحه کولو په بهیر کې:

په الهي نصرت سره د ورث ولسوالي په بشپړه توګه فتحه شوه

په دغه ولسوالی کی د اسلامي امارت سپین بیرغ ورپېد

د بامیانو ولایت د بولو ولسوالیو د فتحه کولو په بهیر کې په الهي نصرت سره د ورث ولسوالي په بشپړه توګه فتحه او د اسلامي امارت سپین بیرغ پکې وریږد .

دباختر اطلاعاتي اژانس خبر راکړ چې لله الحمد د اسلامي اردو د اتلو مجاهدینو او طالبانو د چټکو عملیاتو په ترڅ کې د روان کال د جمادي الثاني په ۹ نیټه د بامیانو ولایت د ورث ولسوالي په بشپړه توګه فتحه او په نوموړي ولسوالي کي د اسلامي امارت سپین بیرغ ورپېد.

د اسلامي اردو مجاهدینو ددغي ولسوالي په فتحه کولو سره له دښمن څخه ځونقانه وسایط او یو زیات شمیر دوزني او سپکي وسلي په غنیمت ونیولي.

خبر زیاتوي چې د نوموړي ولسوالي دیندارو خلکو د الله اکبر په نارو سره د اسلامي اردو مجاهدینو نه هر کلي ووېل له دي امله چې نوموړي ولسوالي ته د طالبانو په رسیدو سره سوله او امنیت ټینګ او د شر او فساد جرړي د تل لپاره له ریښو ووتي دداغي ولسوالي مؤمن خلك نور د شر اچوونکو له هر راز ګواښونو نه په امن شول.

د جنګلك د کارخانو بو دېرش غلا شوي ماشینونه بېرته تر لاسه شول

د جنګلك د کارخانو د تصدیو بو دیرش ماشینونه چې پخوا د تنظیمي جګړو له امله غلا شوي ؤ د استخباراتو د اوپراتیفي ریاست د منسوبینو او ددغي تصدي د رئیس د هلو ځلو له امله د کابل ښار له مربوطاتو نه تر لاسه شول .

د باختر اطلاعاتي آژانس خبر راکړ په دغو اجناسو کې چې د خرادي دري ماشینونه، د خرادي منځني شپاړس ماشینونه ، د برمي بو سټر ماشین د سرمیزي برمي بو ماشین د ولډنګ جنراتور دوه ماشینونه، د

ځلورم مخ

د لوګر ولایت د محمد آغې په ولسوالي کې دیوه جومات د بنسټ ډبره کېښودل شوه

د لوګر ولایت د محمد آغي ولسوالي د ملا محمد امان په کلي کې د یو جومات د بنسټ ډبره کېښودل شوه .

د باختر اطلاعاتي آژانس خبر راکړ په هغې غونډه کې چې له دې امله په دغې ولسوالي کې شوي وه وروسته له هغې چې د کلام الله مجید څو آیاتونه ولوستل شول ددغه جومات د بنسټ ډبره د محمد اغي د محترم ولسوال لخوا په داسي حال کي چې ددغه کلي عالمان او سپین ږیري حاضر و کېښودل شوه .

دغه جومات د سیمې د مومنو او دیندارو خلکو په لګښت ابادیږي او په یو وخت کې یکې دوه سوه تنه لمونځ کوونکي ځائیږي .

از فیصله هاي شرعي علماي جید کشور استقبال بعمل آمد

علما و بزرگان ولایت هرات با تدویر اجتماع در مسجد جامع پارك آنولایت از تصامیم و فیصله هاي علماي جید کشور و فتواي شرعي آنان استقبال بعمل آوردند.

آژانس اطلاعاتي باختر خبر میدهد در این اجتماع بعد از آنکه چند آیت از کلام الله مجید قرائت گردید، محترم مولوي عبدالخالق رئیس حج و اوقاف ولایت هرات و محترم مولوي محمد نعیم گل صدیقي رئیس معارف آنولایت در رابطه به اقدامات نیك امارت اسلامي افغانستان جهت تدویر شوراي علماي جید کشور در شهر کابل صحبت نموده مداخلات کشور هاي ایران و روسیه را در امور داخلي کشور ما محکوم نمودند.

بعداً چند تن از علماء به نمایندگي از سایرین پیرامون موضوع صحبت نموده از تصامیم و فیصله هاي علماي جید کشور و فتواي شرعي آنان حمایت و همکاري بیدریغ شانرا جهت تحقق بخشیدن آن ابراز داشتند.

فتواي چند بُعدي علماي جید کشور درین مرحله خطیر از تاریخ متضمن بسیج سعادت برنوشت ساز ملت است

محترمه پوهنمل دکتورس صالحه تبي زاده رئیسه شفاخانه رابعه بلخي

خوانندگان محترم ! محترمه پوهنمل دکتورس صالحه تبي زاده رئیسه شفاخانه رابعه بلخي و دو تن دیگر از پرسونل آن شفاخانه نظر شان را در رابطه به تدویر جلسه علماي جید کشور چنین ابراز داشتند :

چندي قبل شهر کابل پایتخت کشور عزیز ما افغانستان محل تصمیم گیري ممثلین معنوي و روحاني جامعه، ما یعني اجتماع علماي جید کشور بود که بر اساس حکم الهي بر اصل شورا و بتأسي از هدایت عالیقدر امیر المؤمنین ملا

ص«٤»

پروتوکول همکاري بین جمعیت افغاني سره میاشت و کمیته آي.سي.آر سي عقد گردید

پروتوکول هاي همکاري بین جمعیت افغاني سره میاشت و نماینده کمیته آي.سي.آر.سي مقیم کابل در مقر آن جمعیت عقد گردید .

آژانس اطلاعاتي باختر خبر میدهد پروتوکول متذکره طي ملاقات محترم حافظ مولوي سید عصمت الله عاصم رئیس عمومي و سکرتر جنرال جمعیت افغاني سره میاشت با نماینده کمیته آي.سي.آر.سي به امضا

ص«٤»

سرمقاله

دلوي خداي (ج) په نامه

مردم شریف پروان کاپیسا دیگر نباید آله، دست مسعود «نامسعود» علیه نظام اسلامي گردند

مردم شریف پروان کاپیسا همچون سایر باشندگان کشور در همه مسایل مربوط به کشور شریك بوده و در طول تاریخ در راه حفاظت و اعتلاي کشور مصدر خدمت شده اند و در جهاد بزرگ و سرتاسري ملت مجاهد افغان علیه متجاوزین شوروي سهم بارز و قابل حساب گرفته و در این راه مقدس ایثار و فداکاریهاي مالي و بدني نموده اند .

حکومت هاي گذشته از شاهي گرفته تا حکومت هاي دست نشانده کمونیستي و اداره ائتلافي رباني به بهبود وضع مردم شریف پروان کاپیسا توجه درست و کافي نه نموده به ارتقاء و تعالي مادي و معنوي اهل آن دیار فکر و نظر نکردند . از همه مهمتر زحمات و مشقات که از جانب مسعود متوجه آن مردم گردید نهایت درد آور و نتایج سؤ و بد آن ممکن سالهاي سال دامنگیر اهالي پروان کاپیسا باشد . اگر نظام شاهي توجه به آن دیار ننمود به هیچ دیار دیگر کشور هم طور شاید و باید توجه نکرده اند و در طول چهل سال زمامداري بر ملت مسلمان افغان حتي به حل مشکلات و بر آورده نمودن ابتدایي ترین ضروریات مردم قادر نگردیدند و یا اصلاً نخواستند که به رفع مشکلات مردم بپردازند .

ص«۲»

تیم هاي والیبال معارف الف و توول اردوي ننګرهار در مسابقات انتخاباتي برنده شناخته شدند

در مسابقات انتخاباتي والیبال تیم ملي جوانان، تیم والیبال معارف الف ۳ مقابل یك بر تیم ولایت لوګر غالب ګردید.

آژانس اطلاعاتي باختر خبر میدهد در این مسابقات که از طرف ریاست تربیت بدني و سپورت در جمنازیوم ورزشي مدرسه اماني راه اندازي ګردیده بود.

تیم والیبال معارف الف

ص«٤»

دو صد تن افراد مسلح مخالف با امارت اسلامي افغانستان پیوستند

دو صد تن از افراد مسلح مخالفین در مناطق دور دست ترکمن دره ولسوالي غوربند ولایت پروان با درك حقانیت امارت اسلامي به مجاهدین اردوي اسلامي پیوستند.

اژانس اطلاعاتي باختر خبر داد به سلسله پیوستن قوماندانان و افراد مسلح مخالفین امارت اسلامي دو صد تن از افراد مخالفین به

ص«٤»

استفاده از نـــور براي معالجه بیماري ها

نور میتواند بیماري هاي نظیر سرطان، سل، ذات الریه و بیماري هاي ویروسي و شماري از بیماري هاي رواني را درمان کند . به نوشته هفته نامه سندي تایمز چاپ لندن نور که از اجزاي اصلي حیات در زمین بشمار مي آید توانایي احساس را در موجودات بر مي انگیزد.

بسیاري از افراد در فصول خزان و زمستان براي ابتلاء به انواع امراض آماده گي بیشتري پیدا مي کنند علت این امر بروز سرما و رطوبت نیست بلکه کاسته شدن از میزان نوري است که

ص«٤»

شراب خور و شراب فروش هر دو دستګیر شدند

دو تن مجرمین شراب خوار و شراب فروش اخیرا از مربوطات ساحه تایمني شهر کابل دستګیر ګردیدند .

آژانس اطلاعاتي باختر خبر میدهد : نور علي فرزند باران به اتهام نوشیدن شراب و علي مراد فرزند داد علي به اتهام فروش شراب اخیراً با یك میل کلاشینکوف و یکمقدار تریاك توسط موظفین ماموریت سمت اول حوزه دهم امنیتي از مربوطات تایمني دستګیر ګردیدند.

چګونګي قضیه تحت تحقیق و بررسي جدي قرار دارد .

شریعت

دتاسیس کال : ۱۳۷٤ هـ ش
: د لیکوال هیئت ترنظر لاندي
مسؤول مدیر : الحاج مولوی عبد الرحمن احمد «هوتك»
مرستیال : ملا أسد الله «حنیفي»
دبوي ګڼې بیه : په هیواد کي (۱۰۰۰) افغانی پهپاکستانکی(۳) کلداری
پوست بکس : (٤٧١) تیلفون: ۲۰۰۷۵
په پېښور کي :دطالبانونمایندګۍتیلفون: ۸٤٤۳۳۱-۸۱۸۱۵۷-۸۱۵٦۲۷
جاري حساب : ٤۰۳۸٥/۷ د افغانستان بانك مرکز
چاپ : دولتی مطبعه

بقیه سرمقاله

دوره، مختصر داود خان هم از شگوفایي چنداني برخوردار نبود و داود همه هم و غم خود را – به تحریك کمونیست ها– متوجه تصفیه رقباي خود به خصوص حرکت هاي اسلامي نمود . کمونیست ها علي السویه به حساب و کتاب ملت مجاهد افغان پرداختند و هیچ قوم و ملیت ، ولایت و سمتي از کشور نبود که از خدمات!! کمونستها کم و بیش برخوردار نشده باشند ؛ اما آنچه مسعود به حیث یك شمالي وال که خود را مدافع حقوق و حیثیت سیاسي و اجتماعي تاجك ها به خصوص مردم پروان کاپیسا – به همکاري و کمك وسیع تبلیغاتي کفر بین المللي – معرفي داشته آنچه بر مردم آنجا روا داشت هیچ دشمن با دشمن خود نخواهد کرد چه ماند که دوست با دوست مرتکب چنین اعمال گردد .

مسعود در آغاز به تصفیه وسیع رقباي خود در دره، پنجشیر دست زد سپس عامل اولي و ابتدایي برخورد هاي شدید میان مردم دند شمالي بنام حزب و جمعیت گردید – و حتي مسعود اولین شخص و قوماندانی بود که به خلع سلاح یکي از گروپ هاي مجاهدین پرداخت و این خلع سلاح سرآغاز خلع سلاح ها و برخورد ها میان گروپ هاي مجاهدین گردید – که در نتیجه این برخورد هاي شدید میان حزبي ها و جمعیتي ها صد ها تن از اهالي مجاهد پروان کاپیسا کشته شدند و مبالغه نخواهد بود اگر گفته شود که مقتولین حزب و جمعیت که در جنگ هاي ذات البیني کشته شدند از تعداد آنهائیکه مقابل کمونیست ها و شوروي ها شهید شده اند اضافه تر میباشد .

مردم محترم پروان کاپیسا ! مسعود با امضأ معاهده اوریند با شوروي ها بزرگترین لکه ننگ و عار را در جبین پاك جهاد و مبارزات شما علیه کمونیست ها و بادار خارجي شان (شوروي) نگذاشته و شما مجاهدین دلیر را مقابل حملات شوروي ها تنها نماند ؟

اهالي شریف پروان کاپیسا! مسعود که مهره، اصلي و کلیدي اداره ائتلافي رباني بود آیا با ایجاد همچون ائتلاف نا مقدس و غیر اسلامي و ملي که به اشاره مستقیم روسها و ایراني ها پایه گذاري شد بر حیثیت دیني، ملي و جهادي تان بازي ننمود ؟ آیا مسعود با تأمین علایق دوستانه و نزدیك با کفار بین المللي همچون روسیه ، هند ، فرانسه ، اسرائیل و ... و کاستن علایق خود با حرکت ها و نهضت هاي جهادي و اسلامي جهان اسلام و نسبت دادن آنها به تروریزم با جهاد و آرمان جهادي مردم افغان به خصوص با شما وطنداران مرتکب خیانت نگردیده است ؟ آیا مسعود در دوره زمامداري اش بر کابل کدام پست وزارت و یا معینیت را در اختیار یکي از مردمان دند پروان کاپیسا گذاشته بود ؟ آیا مسعود در دوره اوج مستي قدرت ائتلافي اش به جز از پنجشیر در سراسر پروان کاپیسا به تأسیس کدام مکتب ، مدرسه و اعمار کدام سرك، پل و سایر مراکز عام المنفعه اقدام ورزیده است؟ – طوریکه به تخریب پل ها و سرك ها جرأتمندانه اقدام مي ورزد – آیا از آغاز دوره زمامداري ائتلافي مسعود تا همین لحظه بد ترین دوره ضعف اخلاق و دیانت جوانان و نوجوانان شما نمي باشد؟ که همه جوانان به طور عام و تفنگ بدستان امروزي پروان کاپیسا به طور خاص به چرس ، قمار، دزدي و سایر جرایم اخلاقي مواجه نمي باشند؟ آیا مسعود با نیرنگ و مهارت خاص، شما را مقابل همه اقوام و ملیت هاي کشور نه جنگانید، مقابل ازبك، هزاره ، پشتون و ... ؟ – و البته از پیامد و عاقبت این اعمال درست آگاه خواهید بود – از همه تأسف آور این است که مسعود شما را با چالاکي خاص، مقابل وارثان پیامبر «ع» قرار داده و صد ها تن از اولاد هاي حسبي پیامبر «ص» (طلبه ها) توسط شما و یا در کوچه و بازار شما به شهادت رسانیده شدند . و امروز که همه کشور از لوث الحاد ، فساد و شر به نصرت الهي تصفیه گردیده و یك حکومت شرعي و ملي در پایتخت کشور قایم میباشد باز هم مسعود از کنار خانه و کاشانه شما مردم بیچاره و مظلوم کابل را مورد هدف بدترین و مهلك ترین سلاح ساخت روس (لونا) قرار میدهد و صد ها تن به شمول اطفال ، زنان و مرد هاي کابلي با خاك و خون یکسان میشوند ؛ آیا از مسؤلیت آن شما شانه خالي خواهید توانست ؟ و امروز که علماي جید سراسر کشور از شما توقوع شرعي و دیني مینمایند و اضرار دنیوي و اخروي اندیوالي مسعود و سایر عناصر شر و فساد را مخلصانه و دوستانه به شما گوشزد مینمایند و اطاعت امارت اسلامي را یك فریضه دیني شما میدانند و از شما میخواهند که به هوش بیائید و از دشمني با اسلام و مسلمین دست بکشید چه دلیل و ضرورت در میان خواهد بود که شما باز هم به هوش نیامده و تغییر مسیر ندهید و راه تان را از راه مفسدین و بغات جدا نه نمائید ؟

ما دوستانه به شما یاد آور میشویم که پذیرش توصیه علماي جید کشور شما را از هلاك دنیوي و اخروي نجات داده سبب سعادت دارین تان خواهد گردید و الي پشیمان خواهید شد و آنزمان پشیماني سودي نخواهد داشت .

۲ + ٦ = ...

پټی پاڼې

شهرت ننګیال

داسې ښکاري چې ملګري ملتونه له خوب ، نیشې، بیهوښي یا هري بلي بلا را پاڅیدلي او د افغانستان په اړه یې د څه ویلو او کولو اراده څرګنده کړي ده . په نیو یارك کي د افغانستان د شپږو ګاونډیو هیوادونو غونډه چي امریکا او روسیه د څارونکو یا اداره کوونکو په توګه پکي برخه لري جوړه شوه دا هماغه غونډه ده چي شپږ جمع دوه بلل کیده .

د دوه جمع شپږ ډنډوري له پخوا غږول کیدي، نه پوهیږم چي د ابجد په حساب به له (۲+٦) نه چي حاصل یې (۸) کیږي څه جوړیږي ؟

۲+٦ ته ډیر پورته پورته غورځیدل، ځینو خونوي دریشي او ډپلومات بکسونه هم سر رشته کړي وو زرغونه اشاري ته په دوو پښو ناست وو ملګرو ملتونو ښایي دا غوره ګڼلي وي چي : هر آنچه دیر آید درست آید ځکه خو تري د ۲+٦ عملیه دومره وروسته پاتي شوه چي نژدي وه دغه فورمول له خلکو هیر شي.

ځینو خو دا وړاندیزونه هم کول چي پدغو (۲) او (٦) دي څه نور عددونه هم ور زیات شي خو ځینو بیا ویل چي نه، په ډیرو قصابانو کي غوا مرداره درواخله .

جنجال خو چي جوړ دي ټول له همدي (۲) او (٦) جوړ دي ، که نور عددونه پري زیاتیږي څرګنده خبره ده چي کړکیچونه به هم ورسره زیاتیږي که دغه نور هم په افغانستان کي د لاسوهنو خوند وګوري بیا به د هغې څه علاج کوو .

حقیقت دا دي چي «ورانه ده له خانه ده» د روس او امریکي پسه وړاندي پسه دا نور هیوادونه څه رول ولوبولي شي او که یې لوبولي شي نو هغه خو دا دي لوبوي یې او په افغانستان کي د تپل شوو جګړو اورته خسو د دوي له خوا لمن وهل کیده .

ددوه جمع شپږ غونډه پداسي وخت کي په نیو یارك کي جوړه شوه چي د افغانستان ډیره د یوه ملي حل په درشل کي ده . معنا دا چي د بهرني لاسوهني عوامل له هیواد څخه په بشپړه توګه شړل شوي د هغوي جنګي ماشین له پښو لویدلي او د جنګي ډلګیو مشران بهرنیو هیوادونو ته تښتیدلي دي، پدي توګه په ټول هیواد کي د افغانستان د اسلامي امارت واکمني ټینګه او سوله او امنیت تأمین شوي دي، له بیلا بیلو ډلګیو او لاسونو د وسلو ټولو پروسه نژدي بشپړه شوي او د هیواد د ځمکني بشپړتیا او ملي وحدت په وړاندي پاته ګواښونه له منځه تللي دي.

د شپږ جمع دوه غونډي نیت او اراده چي هر ډول وه خو په هیواد کي سوله او امنیت ټینګ او د تپل شویو جګړو مخه ونیول شوه ، پدي توګه به که خداي کړه نور په جدي توګه له بهر نه تپل شویو جګړو ته د پاي ټکي کیښودل شي او افغانان به د سولي ، ثبات او امنیت په فضا کي د هیواد د آبادي او سوکالي په لاربون پیل کړي . که د دوه جمع شپږ مطلب دا وي نو دا کار خو دا دي تر سره شو او په ریښتني توګه تر سره شو .

د ۲+٦ پر ځاي ملګرو ملتونو ته ښائیدله چي د ایران د پوځي ګواښونو نو ټس یې اخیستي واي او پدي لار کي یې خپل رول تر سره کړاي واي لکه څنګه چي عالیقدر امیر المؤمنین همدا سي غوښتنه تري کړي چي د ملګرو ملتونو د منشور له مخي ددغي نړیوالي اداري بشپړه مکلفیت هم بلل کیږي خو لکه څنګه چي لیدل کیږي ملګرو ملتونو تر اوسه پدي اړه هیڅ ګام نه دي اوچت کړي او پدي اړه یې خپل مکلفیتونه او دندي له پامه غورځولي او لکه چي څرګندیږي له وخت نه په تیرو حالاتو کي یې ځان نغښتي او په هغې څه لګیا دي چي وخت پخپله د هغو د حل پریکړه کړي او د ملګرو ملتونو تکلیف یې رفع کړي دي.

کورنی فقه

برله پسې — ٥٩ برخه

د پیغلي او کونډي له خوښي پرته د هغي د نکاح حکم

قاضي محمد حسن "حقیار"

له واده او نکاح څخه عمده هدف د ټولنیز نظم ساتل او د مینې، محبت، اطمینان او هوسا ژوند را منځته کول دي او دا کار هلته ممکن دي او دا موخه هغه وخت تحقق مومي چي ښځه په خپله خوښه او رضا د ژوند ملګري وټاکي او کله چي د هغې د طبیعت او خوسي پرته چاته په نکاح ورکول کیږي او جبراً پري څوك د مسیره په نوم تحمیلیږي نو دا د نکاح د اصلي هدف نه مخالف کار دي چي د ټول عمر لپاره له کور څخه تنور او جهنم جوړ وي د ښځي او خاوند تر منځ باید ډیره ډیره مینه او محبت وي او دا محبت اللهج» د خپل وجود نښه بولي « و من ایاته ان خلق لکم من انفسکم ازواجاً ...» الروم ۱۲

یعني : « او له نښو دده څخه دا ده چي پیدا کړي یې دي تاسو ته له نفسونو ستاسو څخه ښځي لپاره ددي چي مایل شي دوي ته (سکون تري واخلي) او ګرځولي یې ده ستاسو تر منځ دوستي او مهرباني » .

او بل دا ده چي د شریعت په نظر بوازي د وینځي مالك حق لري چي وینځه حتي د هغي له خوښي پرته په نکاح ورکړي او په اصلي ښځي باندي څوك دا حق نه لري او که څوك له اصلي ښځي سره هم دا چلند کوي نو معني دا شوه چي له دي نه یې هم وینځه جوړه کړه او له اصلي ښځي مستقیماً یا بالواسطه وینځه جوړول ګناه ده همدا راز دا د ښځي خپل حق دي او حق سلبول که هغه د هر چا وي ستره ګناه ده نو اوس چي عالیقدر امیر المؤمنین دي مهمي موضوع ته پام کړي دي او ددا ډول نکاحګانو ممانعت یې اعلان کړیدي نو دا یو نیك اقدام او د شریعت د یو داسي حکم پر ځاي کول دي چي تیر او هیر ګڼل شوي وي نو ټولو قومي مشرانو، حکمرانانو، والیانو، سپین ږیرو، علماء و روحانیونو او ټولو عامو مسلمانانو ته په کار ده چي دي هدایت ته د عملي بڼي ورکولو په پروسه کي ارزښتمن ګامونه پورته کړي او ددي جاهلي دود مخه ونیسي او په دي هکله د خلکو د ذهنیت په برابرولو کي له هر ډول وسیلي نه که هغه د افهام او تفهیم وسیله وي که د تعلیم او زده کړي، وسیله وي او که د زور وسیله وي کار واخلي . ځکه دا کار (په زوره چاته په نکاح ورکول) د یو لوي ټولنیز ظلم او فساد لامل ګرځي په دي معني چي کله په نکاح کي د ښځي خوښه نه وي نو دا نکاح نه صحیح کیږي او په دا ډول تش په نامه نکاح کي د خول او کوروالي هم روا نه دي ځکه کله چي اصل نکاح نه وي نو کوروالي او جماع به له کوم درکه روا شي او د دوي تر منځ هر جنسي حرکت ناروا ګڼل کیږي نو یو ځل بیا وایو چي مسونږ باید دي حقیقت ته متوجه و اوسو د ښځو دا شرعي او اسلامي حق ښځو ته ورکړو، د جاهلي غیرت تر تاثیر لاندي را نشو او په زوره او له خپل لاسه خپلي لورګاني ، خویندي او نګورګاني حرام کار ته مخ نه کړو .

د کابل د ستري فتحې د دوهمې کاليزې په وياړ:

په تير کال کې د اسلامي اردو د مجاهدينو برياوو ته يو لنډ نظر

سميع الله «سميع»

تير کال د ميزان د مياشتې شپږمه يا د کابل د فتحې لومړۍ کاليزه په داسې شرايطو کې ولمانځل شوه چې په شمال کې د اسلامي اردو مجاهدين د خپلو فتوحاتو په بهير کې د مزار شريف د ښار تر دروازو پورې رسيدلي و او د حيرتانو ښار ګوټي اتلسمه فرقه، قلعه جنګي، او د شمال زياتې سيمې د اسلامي اردو د مجاهدينو تر کنترول لاندې وې. په مزار شريف کې د جګړو د سختوالي له امله ملګري ملتونه ديته اړ شول چې خپل پرسونل په الوتکه کې له مزار شريف څخه وباسي. په شمال کې د اسلامي اردو برياوو ايران ، روسيه، هند او د منځنۍ آسيا هيوادونه سخت وارخطا کړي او په دې هڅه کې شول چې د اسلامي اردو د مجاهدينو په وړاندې مخالفين د وسلو او مهماتو له پلوه اکمال کړي او دا کار ددې سبب شو چې د مخالفينو جګړه ييز مورال لوړ شي او د جنرال دوستم په قومانده يې د اسلامي اردو د مجاهدينو په وړاندې نوي پوځي تحرکات پيل کړل. د مزار شريف د ښار په نظامي مرکزونو باندې د اسلامي اردو د هوايي ځواکونو له خوا سخته بمباري روانه وه . د مخالفينو فشار د حيرتانو په ښارګوټي زيات شو او د اسلامي اردو مجاهدين ديته اړ شول چې د حيرتانو له ښارګوټي څخه شاته شي او د تير کال د ميزان د مياشتې په ۱۵ مه د سه شنبې په ورځ د حيرتانو ښارګوټي د مخالفينو تر ولکې لاندې شو. مخالفينو د خپلو پوځي تحرکاتو په جريان کې د ملکي خلکو په عامه وژنه لاس پورې کاوه او بيايې داسې دعوه کوله چې دغه کار طالبانو کړي دي. نو ددې له پاره چې د اسلامي اردو مجاهدين او طالبان له دغه رنګه تورونو څخه بچ شي نو د شمال د اسلامي اردو د ځواکونو مشرتابه دا ښه وګڼله چې خپلې ټولې قواوې له مزار شريف څخه وباسي او په کندز کې يې ځاي په ځاي کړي او له کندز څخه د شمال د ولايتونو حالت وڅاري. د بلې خوا نه د اسلامي اردو مسوولين په دې ښه پوهيدل چې د مخالينو د زور او ظلم په وړاندې په خپله خلك پورته کيږي او د خلکو د عمومي قيام په وخت کې بيا لاس په کار شي نو ددغه پلان سره سم د اسلامي اردو ځواکونه په کندز کې ځاي په ځاي شول او د حالاتو څارنه يې کوله . مخالفينو کوښښ کاوه چې له شمال څخه د اسلامي اردو د مجاهدينو فشار کم کړي نو د هيواد په ختيځو ولايتونو کې يې ځينې پوځي تحرکات پيل کړل خو په ختيځو ولايتونو کې د اسلامي اردو مجاهدينو په خپل وخت سره د مخالفينو هر ډول پوځي تحرکات له غوځې ماتي سره مخامخ کړل د بلې خوانه د ايران هيواد په شمال کې په بر الا ډول په وسلو بار الوتکې مخالفينو ته راوړلې نو عاليقدر امير المؤمنين او د اسلامي اردو اعلي قوماندان د تير کال د عقرب د مياشتې په ۱۵ مه له ملګرو ملتونو څخه وغوښتل چې په افغانستان کې د ايران د پوځي لاس وهنې مخه ونيسي او که نه هغه به هم د ملګرو ملتونو پريکړې ونه مني په کندز کې د اسلامي اردو د مجاهدينو د ځاي په ځاي کيدو وروسته جنرال دوستم په شمال ولايتونو څه کنترول ټينګ کړ نو ددې له پاره چې په شمال کې دوستم د طالبانو سره ځان نژدې وښيي او د خپل سخت رقيب

> **ددې له پاره چې په شمال کې دوستم د طالبانو سره ځان نژدې وښيي او د خپل سخت رقيب (جنرال مالك) اصلي څيره خلکو ته ښودلې وي نو د هغه طالبانو ډله ييز قبرونه يې راوسپړل چې د جنرال ملك او د وحدت دولې له خوا په ډيره بې رحمي سره دده په غياب کې دليلي په دښته کې د ايران د بروجردي په قومانده وژل شوي وو او په دغه قبرو او ځاګاونو کې ښخ کړي شوي وو او چې شمير يې نژدې ګلور زرو ته رسيدل. انا لله و انا ..**

(جنرال مالك) اصلي څيره خلکو ته ښودلې وي نو د هغه طالبانو ډله ييز قبرونه يې راوسپړل چې د جنرال ملك او د وحدت دولې له خوا په ډيره بې رحمي سره دده په غياب کې دليلي په دښته کې د ايران د بروجردي په قومانده وژل شوي وو او په دغه قبرو او ځاګاونو کې ښخ کړي شوي وو چې شمير يې نژدې ګلور زرو ته رسيدل انا لله و انا ... څو ورځې وروسته په شمال کې له يوې خوا د جنرال دوستم او جنرال ملك د افراډو تر منځ جګړه پيل شوه او له بلې خوا د اسلامي اردو د مجاهدينو او مخالفينو تر منځ وخت نا وخته جګړې کيدلې د اسلامي امارت پلويان په دې بريالي شول چې د تير کال د قوس د مياشتې په ٤ مه په بدخشان کې د زيباك ولسوالي او د توپخانې سيمه ونيسي چې په دغه وخت کې استاد رباني په اسلام اباد کې د نواز شريف رسمي ميلمه و ، رباني ددغه خبر په اوريدو سره ډير خواشيني شو، خو په پاکستان کې د رباني سياسي هلو ځلو کومه نتيجه ورنکړه، استاد رباني د تير کال د جدي د مياشتې په ۷ مه له اسلامي امارت نه وغوښتل چې د روژې مبارکې مياشتې د رارسيدلو له امله له پوځي حرکاتو څخه ځان وژغوري. خو اسلامي امارت د استاد رباني دغه وړانديز د مخالفينو پوځونو د اکمالاتو له پاره غوره چانس وګاڼه او په همدغه ورځو کې د ايران الوتکو باميانو ته وسلې راوړلې نو د اسلامي امارت هوايي ځواکونو د باميانو هوايي ډګر بمباري کړ او هم په دغه وخت کې د تخار ولايت د قيصار په ولسوالي کې د اسلامي اردو د مجاهدينو او د دوستم د مليشو تر منځ سخته جګړه روانه وه او په دغه جګړه کې د هاوان يوه ګولۍ د دوستم څنګ ته ولګيده چې د دوستم سترګې او غوږونه ژوبل شول او د علاج له پاره يې تاشکند ته انتقال کړ . په مزار شريف کې د مليشو د زور او ظلم له لاسه خلك دومره په تنګ شول چې خپل کورونه يې پريښودل او مهاجر شول. او ځينو په مزار شريف کې په مظاهره لاس پورې کړ چې په دغه مظاهره کې چې د تير کال د ذوالقعدة الحرام په ۲۶ ، ۱۳۷۷ هـ ش کال د حمل په ٤ مه پيل شوه اته تنه مظاهره کوونکي مړه او ۲۰ تنه ټپيان شول خو خلکو بيا هم غوښتنه کوله چې وسله وال کسان دې د مزار شريف له ښار څخه ووځي.

د روان هـ ق کال د محرم الحرام په ۱۱ مه د ۱۳۷۷ هـ ش کال د ثور په ۱۸ مه د اسلامي اردو مجاهدينو د تخار په ولايت کې د مسعود له قواو څخه د اشکمش ولسوالي ونيوله او په دغه ډول د مسعود د قواو اکمالاتي لاره بنده شوه . ددغه رنګه حالت په رامنځته کولو سره د مخالفينو يو زيات شمير قوماندانان د خپل پرسونل او وسلو سره د اسلامي اردو ځواکونو ته تسليم شول او ددغه کار له امله مخالفين سخت وارخطا شول او فيصله يې وکړه چې په خپل ائتلاف باندې يو نوی نظر وکړي نو د متحدې جبهې مشران لکه ګلبدين حکمتيار، احمد شاه مسعود ، کريم خليلي، محمد علي جاويد ، اکبري او جنرال دوستم د مزار شريف په معدن نمك کې سره غونډه وکړه او د ايران د علاو الدين بروجردي تر نظر لاندې يې پريکړه وکړه چې د طالبانو په ضد يوه ګډه نظامي جبهه جوړه کړي . خو د مخالفينو اتحاد د بې اتفاقي سره مخ شو پوځي تحرکات يې په ټولو جبهو کې ناکامه شول او بالاخره انجنير محمد نسيم مهدي د اسلامي جنبش په نامه يوه نوې پوځي ډله جوړه کړه او ددې سره جوخت په چاريکارو کې د احمد شاه مسعود او جنرال بابا جان د افرادو تر منځ اخ و ډب پيل شو او په سالي کې د قواو انهول د اسلامي امارت په ګټه شو هغه دا چې د تکاب د الاساي په ولسوالي کې د قوماندان عزت الله په شري قابو دري سوه وسله وال کسان او د قوماندان مسلم په قومانده ٦۱ مخالف وسله وال کسان د اسلامي اردو د مجاهدينو سره يو ځاي شول . د روان کال د ربيع الاول په ۱۷ مه د فارياب په ولايت کې د قيصار او المار ولسوالي په بشپړه توګه له مخالفينو نه د اسلامي اردو مجاهدينو پاکه کړه او ربيع الاول په ۱۸ مه د فارياب ولايت پولې ولسوالي د اسلامي اردو د مجاهدينو له خوا فتحه شوي او په دغه تصفيوي عمليانو کې د جنرال دوستم ۸۰ مليشي بندي ونيول شوي او هم يو شمير ټانکونه، ټريونه، د بي ام د ستګاوي او نوري سپکي او درنې وسلې د مجاهدينو لاسته ورغلي. د روان کال د ربيع الاول په ۲۵ مه په فارياب کې د اسلامي اردو د مجاهدينو د دافع هوا توپونو د ډزو له امله د مخالفينو يوه جيټ الوتکه راوغورزيده . د اسلامي اردو د مجاهدينو د برياليو فتوحاتو له امله مخالفين سخت وارخطا شوي او له ايران او روسيې څخه يې د زياتو وسلو غوښتنه کوله د بلې خوا د شمال خلکو چې د مليشو د ظلم او ناروا څخه په تنګ شوي وو او د اسلامي اردو مجاهدينو ورتللو ته سترګې په لاره وو په داسې حال کې چې په غوربند کې مخالفينو څو واري د اسلامي اردو د مجاهدينو په سنګرونو باندې ناکامه بريدونه وکړل او زيات تلفات يې ورکړل د روان کال د ربيع الاخر په ۹ مه د ۱۳۷۷ هـ ش کال د اسد په لسمه د فارياب ولايت وروستی اداري واحد د اندخوي ولسوالي د اسلامي اردو د مجاهدينو له خوا په بشپړ ډول فتحه سره او د اسلامي اردو اتلو مجاهدينو د فارياب ولايت د بشپړې فتحې وروسته د شبرغان په لور مخه کړه او د روان کال د ربيع لاخر په لسمه د ۱۳۷۷ هـ ش کال د اسد په ۱۱ مه د يکشنبې د ورځې سهار وختي د اسلامي اردو اتل مجاهدين د شبرغان ښار ته ننوتل دوستم د خپلو څو تنو پلويانو او خپلوانو سره په الوتکه کې ازبکستان ته وتښتيده او د شبرغان هوايي ډګر ته يې اور واچاوه او مزار شريف کې د چمتال، چهاربولك او بلخ ولسواليو خلکو او مجاهدينو د ګلم جم له مليشو نه لومړۍ ولسوالي پاکې کړې او د اسلامي امارت سپين بيرغونه يې پورته کړل . د روان هـ ق کال د ربيع الاول په ۱۲ مه د شبرغان له نيولو وروسته د اسلامي اردو مجاهدين د سرپل ولايت ته ننوتل چې د مؤمنو خلکو له خوا د الله اکبر په نارو سره بدرګه شول او بالاخره د سرپل ولايت ټولې ولسوالي فتحه شوې او زياتې سپکې او درنې وسلې له مهماتو سره يو ځاي د اسلامي اردو ځواکونو ته په لاس ورغلې. په مزار شريف کې يو شمير قوماندانان په خپله خوښه د اسلامي اردو ځواکونو ته واوښتل او د روان هـ ق کال د ربيع الاول په ۱٦ مه ۱۳۷۷ هـ ش کال د اسد په ۱۷ مه د اسلامي اردو مجاهدين د شنبې په ورځ سهار وختي د مزار شريف ښار ته ننوتل او په الهي نصرت سره په دوه ساعتونو کې د مزار شريف په ټول ښار باندې د اسلامي اردو د ځواکونو واکمني ټينګه شوه او وريسې د ښاديانو دره او نورې ولسوالي په بشپړه توګه فتحه شوې او په ټول مزار شريف کې د اسلامي امارت سپين بيرغونه پورته شول . د اسلامي اردو مجاهدينو په الهي نصرت سره د روان کال د ربيع الاخر په ۱۹ مه د ۱۳۷۷ هـ ش کال د اسد په شلمه د سه شنبې په ورځ د تخار مرکز د تالقانو ښار هم فتحه کړ او هم يې د روان کالد ربيع لاخر په ۲۰ مه د ۱۳۷۷ هـ ش کال د اسد په ۲۱ مه د حيرتانو ښارګوټي هم فتحه کړ او د ګلم جم او خليلي مليشي څه تباه شوي او څه وتښتيدلې ددغو فتوحاتو په لړ کې د سمنګان ولايت ، پلخمري ، نهرين او څينې نورې سيمې په بشپړ ډول فتحه شوې او امنيت په کې ټينګ او په فتح شوو سيمو کې شرعي قانون نافذ شو. د روان کال د جمادي الاول په ۱۳ مه د ۱۳۷۷ هـ

> ايران يو شمير ځواکونه يې په لويديځ سرحد کې ځاي په ځاي کړل او دغه کار د افغانستان د مسلمانو خلکو احساسات راوپارول او ټولو افغانانو په يو آواز دا اعلان وکړ چې د ايران د ناځاپي حملې په وخت کې به ټول افغانان يو موټي د خپل اسلامي اردو د مجاهدينو ترڅنګ ولاړ وي او خپله اسلامي اردو به هيڅ وخت يوازې پرې نه ږدي او د افغانانو دغه يووالي ددې سبب شو چې ايران په خپلو بې ځايه ګواښونو تجديد نظر وکړي او همدغه وجه وه چې دا ايران د دفاع وزير دا خبره وکړه چې موږ به خپلې ماڼورې سر ته ورسوو خو د افغانستان له پاره د حملې او جګړې هيڅ خطر نه شته.

ش کال د سنبلې په ۱۳ مه د مسعود قواو په شمال کې د طالبانو په سنګرونو سخته حمله وکړه خو ناکامه شوه او د سر زيات زيان ورته ورسيده د اسلامي اردو مجاهدينو په الهي نصرت سره خپلو فتوحاتو ته دوام ورکاوه او د ميدان وردګ ولايت د جلريز د ولسوالي له استقامت نه د لاري په اوږدو کې يې سيغان، هيمه او سيخ زرين ونيوه او د باميانو ۲۵ کيلو مترې ته ورسيدل او د وحدت دولې ۸ قوماندانان د خپلو وسلو او پرسونل سره د اسلامي اردو مجاهدينو ته تسليم شول. عاليقدر امير المؤمنين په باميانو کې د اسلامي اردو مجاهدينو په نامه يو پيغام وليږه چې د خلکو د سر او مال په ساتنه کې زيات پام وکړي . د اسلامي اردو ځواکونه د باميانو مرکز ته دومره ورنژدې شول چې د باميانو ښار او هوايي ډګر يې توپونو د ګوليو د تاثير لاندې راغی او هوايي ډګر له کاره ولويده او د جمادي الاول په ۲۱ مه د ۱۳۷۷ هـ ش کال د سنبلې په ۲۱ مه د باميانو د غندك ولسوالي قوماندانان د خپلو وسلو او پرسونل سره د اسلامي اردو ځواکونو ته تسليم شول او د فتوحاتو په بهير کې په الهي نصرت سره د اسلامي اردو مجاهدين د جمادي الاول په ۲۲ مه سهار وختي د باميانو ښار ته ننوتل او د خليلي يو شمير مليشي د خليلي سره يو ځاي د ياك اولنګ ولسوالي ته وتښتيدلې او د تيښتې په وخت کې يې په يو ستر جنايت لاس پورې کړ چې په زندان کې يې ۳۰ تنه زنداني طالبان شهيدان او ۱٤ تنه نوريې ټپيان کړل، خو له نيکه مرغه ۵۷ تنه طالبان ژوندي له زندان نه را خلاص شول. په باميانو کې ۳۰ ټانګونه، دري هيلکوپترونه او نورې سپکې او درنې وسلې او د مهماتو ډيپوګانې د مجاهدينو لاس ته ورغلې د باميانو په فتحه کولو سره باميانو ته ټولې اکمالاتي لارې خلاصې شوي او د عاليقدر امير المؤمنين د پيغام سره سم د باميانو د خلکو سر او مال د اسلامي اردو د مجاهدينو له خوا پوره په امن کې شو او د جمادي الاول په ۲۲ مه د ۱۳۷۷ هـ ش کال د سنبلې په ۲۲ مه د سمنګانو په ولايت کې دره صوف هم د اسلامي اردو د مجاهدينو له خوا په الهي نصرت سره فتحه شو او ټولې درنې او سپکې وسلې د مجاهدينو لاس ته ورغلې . د اسلامي اردو د مجاهدينو د فتوحاتو په بهير کې د جمادي الاول په ۲٤ د شبير غاښې هم د وحدت دولې له ولکې نه خلاص شو او د اسلامي اردو د مجاهدينو تر ولکې لاندې راغلي او هغه ۲۰۰ وسله وال کسان چې په خپله خوښه د اسلامي اردو مجاهدينو ته تسليم شوي وو ونيول شول . مخالفين د اسلامي اردو د پر له پسې فتوحاتو څخه سخت په ويره کې شول او ددې له پاره چې بيا هم خپل ځان د يو قدرت په توګه وښيي نو د «لونا» راکټونو په ويشتلو سره يې د کابل په خلکو شروع وکړه چې د جمادي الاول په ۲۹ مه يو توغندي په خيرخانه مينه کې ولګيده چې څو کورونه يې وران کړل او ۱٦ تنه يې شهيدان کړل او په همدغه ورځ کې بل «لونا» توغندي په کارته پروان کې د بهارستان سينما څنګ ته ولګيده چې لسهاو تنه ځاي په ځاي شهيدان شول او له سلو تنو څخه زيات کسان ټپيان شول. او ددغه ناروا عمل په بدل کې د هوايي قواو الوتکو په پنجشير ، چاريکار او جبل السراج کې د مخالفينو نظامي مرکزونه بمباري کړل . د اسلامي اردو د مجاهدينو په بې ساري سربښندنې ... جمادي الاخر په ۲ مه د ... باميانو له استقامت نه د غوربند ... په ولسوالي کې ترکمن دره فتحه کړ ... په دغه ډول د غوربند ولسوالي په ... ډول فتحه شوه او هم د جلريز له استقامت ... د اسلامي اردو مجاهدين او طا... باميانو مرکز ته په الهي نصرت سره ورسيدل او د جمادي الاخر په پنځمه د ۱۳۷۷ ... کال د ميزان په دريمه د جمعې په ورځ ... غرمې ته وروسته يې دياك اولنګ ولس... هم د وحدت د دولې نه ونيوله او د ... اردو مجاهدين نوموړي ولسوالي ... ورننوتل. په داسې حال کې چې له يو خوا د اسلامي اردو اتل مجاهدين او طالبان ... شمال کې د پر له پسې فتوحاتو سره ... وو د بلې خوا نه د ايراني واکمنانو د شمال ... فتوحاتو او د باميانو د فتحې له امله ... په غضب شول او دا ناری يې پيل کړې ... په مزار شريف کې د وژل شوو جاسوس... چې ډيپلوماتان ورته وايي څخ ... ته اخلي او ددې له پاره ... د مجاهدينو فشار له شمال او ... کم کړي نو د افغانستان سرحد ته ... په پوځي مانورو پيل وکړ ددې ... د افغانستان اسلامي ... ناځاپي حملې ځواب ووايي او ... ځواکونه يې په لويديځ سرحد کې ... ځاي کړل او دغه کار د افغانستان د مسلمانو خلکو احساسات راوپارول ... افغانانو په يو آواز دا اعلان وکړ ... ايران د ناځاپي حملې په وخت کې به ... افغانان يو موټي د خپل اسلامي مجاهدينو ترڅنګ ولاړ وي او خپله ... اردو به هيڅ وخت يوازې پرې نه ږدي ... افغانانو دغه يووالي ددې سبب شو چې ايران په خپلو بې ځايه ګواښونو تجديد ... وکړي او همدغه وجه وه چې دايران ... وزير دا خبره وکړه چې موږ به خپلې ماڼورې سر ته ورسوو خو د افغا... پاره د حملې او جګړې هيڅ خطر نه شته ... د بلې خوا نه د ايران ګواښونو په وړاند... هيواد له دوو زرو څخه زياتو جيدو عالمانو ... د جمادي الاخر په ٤ مه د پنجشنبې په ... دا فتوا صادره کړه چې د ايران د حملې په وخت کې جهاد په هر افغان مسلمان فرض دي او د ايران له عالمانو يې وغوښتل ... په جګړه کې ګټه نه شته او هم يې د اسلامي امارت له مشرتابه نه وغوښتل ... د ايران په وړاندې د صبر او حوصلې نه کار واخلي . لله الحمد ... افغانستان د اسلامي اردو مجاهدين په يووالي او هوښيارۍ سره خپلو فتوحاتو ته دوام ورکوي . او انشاء الله چې په نژدې راتلونکي کې به پاتې سيمې هم په الهي نصرت سره فتحه کړي او د هيواد، خلکو اواسلام د دښمنانو ټولې دسيسې به د خاورو سره خاورې کړي او بالاخره به په خپلې بې ساري قرباني سره واحد افغانستان او واحد يو موټې افغان ملت نړيوالو ته وښيي.

د باميانو ولايت د پنجاب ولسوالي د اسلامي امارت د اردو د سرتيرو مجاهدينو په لاس فتحه شوه

د باميانو د ولايت د پنجاب ولسوالي د افغانستان د اسلامي امارت د اردو د زړورو مجاهدينو لخوا په بشپړه توگه فتحه شوه او ړارن دښمن ته د سر درانه زيانونه او زيات مالي تاوانونه واوښتل .

د باختر اطلاعاتي آژانس د هيواد د پوځي خبر ځايونو له خولي خبر راکړ د اسلامي امارت د اردو د مجاهدينو د بريالبو عملياتو په نتيجه کي د باميانو ولايت د پنجاب ولسوالي په الهي نصرت سره په بشپړه توگه فتحه شوه او د اسلامي اردو پوځونه په فاتحانه ډول دغي ولسوالي ته ورسيدل.

ددغو بريالبو عملياتو له امله له يو شمير نقليه وسايطو سره يو ځاي د دښمن بوه زياته اندازه وسلي او مهمات د اسلامي اردو د مجاهدينو لاسته ورغلل.

خبر ځاي زياته کړه دغي ولسوالي ته د اسلامي امارت د اردو د مجاهدينو په رسيدو سره ددغو سيمو د دينداړو خلکو په همکاري د پنجاب ولسوالي په ټولو سيمو کي بشپړ امنيت تأمين شويدي او خلکو په لوړي اسلامي روحيي سره د اسلامي اردو مجاهدينو ته تود هرکلي ووايه او د لوي خداي«ج» په دربار کي بي شکر ادا کړ چي د خليلي د بدنامو مليشو له ظلم او زور زياتي ته وژغورل شول او له ويري او ډار پرته خپل سوله ييز ژوندانه ته دوام ورکوي

د پنجاب ولسوالي په فتحي سره د باميانو په ولايت کي پراخي ساحي د افغانستان د اسلامي امارت تر واکمني لاندي راغلي او د اسلامي امارت پوځونه په لوړ جنگي مورال سره په فتحه شويو سيمو کي د خپلو سنگرونو په ټينگولو بر سيره د مخالفينو تر واکمني لاندي نورو سيمو کي خپل پر مختگ ته دوام ورکوي چي په الهي نصرت سره به د مليشو نوري سيمي هم د مفسدو عناصرو له شته والي نه پاکي او په دغو سيمو کي به دإيمن أمنيت تأمين شي.

فتواي چند بعدي علماي جيد کشور درين مرحله خطير ...

محمد عمر مجاهد بر محور مسايل خطير کشور درين برهه حساس تاريخي منعقد گرديده بود .

اين ملت مجاهد و غيور ما با اتکا به نصرت و فضل الهي و پشتوانه قوي معنويت که در رأس آن علماي جيد کشور قرار دارند تصميم گرفته اند که آنچنان مشت محکمي بر دهان متجاوزين ظالم بکوبند تا در دل تاريخ براي ابد بيادگار بماند. و ملت ها يکبار ديگر شهامت و پايمردي را از ملتي بياموزند که اسباب بازي طفل گهواره اش سامان جنگ است و به عوض اشعه تابان آفتاب با شعله هاي باروت و آتش بيشتر آشناست امروز هر فرد مسلمان به هر ملیتي که وابسته باشد در کوره متلاطم زمان طوري خود را عيار ساخته است که با هر واژه آن خون و آتش عجين گرديده است اين تجربه را طي ادوار زمان و بخصوص در دو دهه اخير بر ملت مسلمان و شهادت شعار ما استکبار و کفر جهاني تحميل نموده است اخطار و ارعاب قدرت هاي طاغوتي و شيطاني حماقت محض است ظالمان و مستکبرين بايد آگاه باشند که افغانها همانگونه که خود جهت نجات انسانيت و اسلاميت مي بودند در شعله هاي مهيب آن هر غاصب ستمگر را نيز خواهد سوزاند نيست و نابود خواهد ساخت .

فتواي علماي جيد کشور بر علاوه آنکه هوشدار دهنده براي تمام حوائب دبدخل است در عين حال توصيه به حق و عدالت و منطق مي نمايد که ما اميدواريم منطق صلح بر منطق جنگ پيروز گردد و اسلام عزيز خداي نخواسته دستخوش توطيه هاي پشت پرده استعمار و استکبار جهاني نگردد در غير آن جهاد بر عليه کفار و منافقين و جبيه هر فرد مسلمان و عاقل و بالغ کشور اعم از زن و مرد بوده و بايد تا توان دارند تمام استعداد هاي صوري و روحي خود را جهت اعلاي کلمة الله و حراست نواميس کشور يعني تماميت ارضي حاکميت اسلامي افغانستان عزيز متمرکز سازند و در قطار ملت ها و کشور ها سر افراز و ممتاز باشيم .

باميد پيروزي حق عليه باطل

همچنان محترمه پروين حميدي مديره نرسنگ شفاخانه رابعه بلخي چنين اظهار داشتند : طبيعي است که ملت ها در ادوار مختلفه تاريخ با هر طريقه ممکنه براي خود شان حد و مرزي تعيين و مطابق سنن ، عنعنات و شهامت از حدود کشور هاي ، خود دفاع کرده و ميکنند و پاسداري و حراست از کشور بالاي همه افراد مملکت اعم از زن و مرد ، پير و جوان واجب گردانيده شده است. هر گاه بر حدود و حريم اراضي و ديار مسلمانان تجاوز صورت گيرد اسلام حکم جهاد و قيام عمومي را دستور ميدهد و هم در شرايط عادي و اضطراري اصل شوراي و مشورت باهمي را هدايت ميدهد به همين مناسبت اجتماع علما ، و مشايخ در پايتخت مملکت آزاد متکي بر اين اصل بوده و فتواي علمي و شرعي شانرا در برابر تحرکات نظامي گرانه ايران در آنسوي مرز کشور ما ، صادر کرده اند . و مورد تائيد صاحب نظران قرار گرفته و به آن عمل خواهد شد.

محترمه شکيلا «جبارخيل» معاون داکتر در شفاخانه رابعه بلخي نظر شان را طور مختصر چنين اظهار داشتند : اين شوراي علما روحيه اتفاق و اتحاد را در ساير کشور هاي مسلمين ايجاد نمود تا زير چتر سعادت آفرين اسلام بمنزله امت واحد، حيات تکويني و تشريعي خود را استمرار بدهند.

دو صد تن افراد مسلح ...

سر کرده گي محترم حاجي عبدالصمد آغائي در مربوطات ترکمن دره ولسوالي غوربند ولايت پروان به مجاهدين اردوي اسلامي پيوستند.

افراد پيوسته به حاکميت امارت اسلامي افغانستان شش ميل زيوو چهار صد ميل سلاح مختلف النوع ، هشت چين تانك ده عراده وسايط نقليه دو ميل هاوان غرني ، سه ميل هاوان وسط، دو ضرب توپ دي سي، پنج موتر مهمات ، دو دستگاه بي ام چهل ، پنج ميل زيکويك و چهار ميل دهشکه را به مسؤولين امارت اسلامي تسليم نموده تعهد سپردند که يکجا با مجاهدين اردوي اسلامي از اهداف و برنامه هاي امارت اسلامي و تماميت ارضي کشور دفاع مي نمايند.

د جنگلك د کارخانو يو ديرش ...

ترانسفارمر د ولدنگ يو ماشين ، د فريز يو عمومي او بشپړ ماشين، دوه درندو ستر ماشينونه ، دوه سرميزي څرخ ماشينونه او د ستر څرخ دوه ماشينونه يکي شامل دي چي ددغو ماشينونو په لگولو او مونتاژولو سره د فابريکي بوه بله دستگاه فعاله او توليد ته چمتو کيږي .

د ماشين الاتو د راوړلو او ليږدولو لړي دوام لري .

ايراني ژورنالستانو د ...

قضائيه قوي د جمهور رئيس محمد خاتمي د مخالف محافظه کارانو تر تسلط لاندي د خاتمي د پلوي ورځپاڼو پر ضد مبارزه پيل کړي چي په لومړي بړاکي يي د تهران د طوس ورځپاڼي خپرول بندي کړ چي هندا اوس بندي دي .

د نيول شويو ژورنالستانو کورنيو د عدليي د يو دفتر په وړاندي د کنبيناستو په اعتصاب لاس پوري کړي او ويلي يي دي کـه چبـري ژورنالستان ژر خوشي نشي جدي اقدامات به وکړي .

دغـه راز د ارنا د آژانس دوه تنه ژورنالستان د تيري اوونۍ په سر کي ونيول شول چي ددغه آژانس د زياتو اعتراضونو په پاي کي د څلورويشتو ساعتونه وروسته خوشي شول.

محافظه کاران ادعا کوي او ان د محافظه کارانو ځيني ټولنو وايي چي د دوي هدف د اوسني رژيم راپرزول دي، جمهور رئيس خاتمي د مطبوعاتو د ازادي ملاتړ کوي دده شان اقداماتو په وړاندي د ايات الله علي خامنه يي د پلويانو د هغه اقداماتو په وړاندي چي دده د گوند غړو يا انتقادونو ته ورووسته پيل شول تر اوسه د زغم نه کار اخيستی دي .

تحليلگران عقيده لري چي د ايران د مشرانو تر منځ اختلافونه به ټولو برخو کي په تيره بيا د مطبوعاتو په برخه کي د علي خامنه يي او خاتمي د پلويانو تر منځ لا زيات پراخيږي .

پروتوکول همکاري بين ...

رسيد.

به اساس اين پروتوکول کميته آي سي آر سي در تهيه ستند ها غرض جلوگيري از آب خيزي جوي ها و کاريز ها در ولايت خوست پاك کاري جوي ها و کاريز هاي شهر گرديز مرکز ولايت پکتيا و اعمار احاطه ديوار دفتر سره مياشت ولايت غزني با جمعيت افغاني سره مياشت همکاري مينمايد.

پروتوکول هاي متذکره به کمك مالي دفتر آي-سي. ار سي و به همکاري جمعيت افغاني سره مياشت طبق پروگرام کار در مقابل مواد غذايي براي کارگران پروژه ها پرداخته ميشود .

تيم هاي واليبال معارف و ...

۳ مقابل يك بر تيم ولايت لوگر غالب و تيم واليبال قول اردوي ولايت ننگرهار ۳ مقابل صفر بر تيم معارف بي پيروز گرديد.

سلسله اين مسابقات همه روزه از ساعت ۲ دژ جمنازيوم ورزشي مدرسه اماني ادامه دارد .

به تأسي از فرمان عاليقدر ...

محترم مولوي مخدوم عبدالسلام سعادت رئيس عمومي کار و امور اجتماعي ، محترم الحاج مولوي محمد مسلم حقاني معين مسلکي وزارت حج و اوقاف محترم مولوي عبدالسلام حنيفي معين وزارت معارف محترم مولوي عبدالمنان نيازي والي ولايت بلخ محترم مولوي عبدالغياث معين وزارت زراعت محترم مولوي نعمت الله شجاع رئيس محاکم ولايت بلخ ، محترم الحاج محمد عارف خان والي ولايت کندز و محترم مولوي عبدالحفيظ معاون دافغانستان بانك بالنوبه صحبت نمودند .

ايشان طي سخنان خويش در رابطه به اهداف و پروگرام هاي امارت اسلامي در بخشهاي مختلف اداري ، سياسي، نظامي و اجتماعي به حاضرين معلومات مفصل ارائه نمودند و به آنها اطمينان دادند که ديگر امکان جبر و ظلم عناصر شر و فساد در آن ساحات از بين رفته و امارت اسلامي در زمينه تلاشهاي نهايي خويش را بخرج داده و انشاء الله ديگر ملت مظلوم ما تحت ظلم و جبر عناصر شرارت پيشه قرار نخواهند گرفت .

همچنان سخنرانان از مردم متدين آن ولايات خواستند تا در تطبيق اوامر الهي و شريعت غراي محمدي«ص» با امارت اسلامي همکاري نموده و مسؤوليت وجداني خويش را ادا نمايند بعداً فرمان بيست و شش ماده يي عاليقدر امير المومنين قرائت گرديده و با پايان يافتن محفل هيأت به کار خويش آغاز و شکايات مردم را استماع نمودند.

به مناسبت سالروز فتح ...

افغانستان دانستند.

اين ختم هاي قرآن عظيم الشأن در وزارت هاي اطلاعات و کلتور، داخله ، فوايد عامه، رياست هاي احيا، و انکشاف دهات بانك ملي افغان، تربيت بدني و سپورت، افغان کارت، رياست صحت عامه ولايت بلخ، کورس عالي افسران قرار گاه گارنيزيون قوماندانی غند ۵۱ محافظ، قوماندانی دافع هوا، اکادمي تخنيك ، مدارس سيدال ناصري، انصاري،پنجصد فاميلي، و ولسوالي الينگار ولايت لغمان صورت گرفته است .

استفاده از نور براي ...

بوسيله بدن دريافت ميشود با کاسته شدن از طول روز فارمول ميلاتولين که در بدن جانوران حالت خواب زمستاني بوجود مي آورد در بدن بعضي از اشخاص به فعاليت بيش از حد مي افتد و سبب ميشود اين قبيل اشخاص دچار حالت خواب آلوده گي و سستي شوند و از ميزان توانايي آنان به کار و فعاليت کاسته شود و براي مصاب به امراض مختلف آماده گي حاصل کنند.

د گڼون بيه له هيواد نه بهر		
ملك	شپږ	کلني
پاکستان	RS200	RS400
دخليج هيوادونه	SR.150	SR.300
اروپا او امريکا	US$75	US$150

د شريعت تبصره

د ايران ديني عالمان بايد :

د افغانستان د جيدو علماو د غونډي توصيه، برخليك ټاکونکي وبولي

د افغانستان جيدو علماو د خپلي هغي غونډي په پاي کي چي د اسلامي امارت په بلنه د کابل په ښار کي جوړه شوي وه زموږ د هيواد او د سيمي د مسلمانانو د اوسني پوځي سياسي وضعي او ستونزو د حل لارو په هکله يو شرعي، علمي او منطقي عملي پريکړه ليك د رايو په اتفاق تصويب او خپور کړ چي د هغه په ترڅ کي يي د اسلامي وروروولي د اړتياو په رڼا کي ايراني علماو ته هم توصيه وکړه چي په سيمه کي د تاوتريخوالي د کمولو او د اسلام د دښمنانو د دسيسو دشنډولو په لار کي لکه څنگه چي ښايي خپل مسوليت ته پوره پام وکړي او پرينږدي چي ايراني چارواکي د کفري زبرځواکونو په لمسونه د افغانستان پر مسلمان او گاونډي هيواد د پوځي يرغل خيالونو ته قوت ورکړي، په توصيې کي دا هم راغلي دي چي که خداي مکړه په سيمه کي جگړه منځته راځي گټه به يي بواځي او بواځي د يهودو او نصارا و په برخه وي نه د اسلام او مسلمانانو په گټه،که څه هم په دي حساسو شرايطو او نازکو حالاتو کي د ايراني مسلمانانو ځينو ويښ او مخلصو کسانو خپل چارواکي د افغانستان پر اسلامي حريم د تيري څخه منع کړي، د هغوي د پلانونو له عملي کيدو سره يي سخت مخالفت ښودلي او ان تر دي چي د ايران پارلمان له اوږده بحث او څيړنو څخه وروسته په قاطع اکثريت سره دا وسله چي بايد د اسلام، د سيمي د مسلمانو هيوادو او افغان ايران د مسلمانو خلکو گټو او غوښتنو ته کلك درناوي وشي او له خپلو چارواکو نه يي غوښتنه وکړه چي پر افغانستان د پوځي يرغل غلطي ته هيڅکله هم زړه ښه نه کړي، چي د دوي دا پريکړه او اقدامات زموږ او ښايي د ټولو مسلمانانو له نظره د تائيد او ستاينې وړ دي او د اسلام او مسلمانانو د برخليك لپاره ډيري مهمي او گټوري هم دي، خو لکه څنگه چي ښکاري د هغوي فيصله د ايراني چارواکو غوږو ته نه ده ننوتلي او تر اوسه يي داسي عملي اقدام نه دي کړي چي د افغان ايران سرحد ته نژدي پوځي زور ښودنه ختمه کړاي شي او روان کړ کيچ له بيخه حل کړي. لکه څنگه چي يقيني ده ديني علمأ د اسلامي ټولنو مشالونه او معنوي واکداران دي او چي هغوي څه وغواړي نو مسلمان ملتونه وريسي اقتدا کوي په دي ملحوظ د افغانستان د جيدو علماو غونډي د ايران له علماو څخه وغوښتل چي هغوي بايد د مسلمانانو د تباهي ډرامي ته چي د کفارو لخوا جوړه شوي په غير مسؤلانه نظر ونه گوري او د هغه په مقابل کي کړار کيښنۍ ايراني علمأ بايد د افغانستان د جيدو علماو توصيه د مسلمانانو او افغانستان، ايران اسلامي هيوادونو د راتلونکي په هکله برخليك ټاکونکي وبولي له خپلو علمي، روحاني او معنوي مقام څخه لکه چي ښايي گټه واخلي او خپل چارواکي په دي پوه کړي چي د افغانستان مسلمان خلك د اسلامي عقيدي، ښه گاونډيتوب،ډزادي او ژبنيو وړتيا والو له کبله د ايران د مسلمان ملت نه حلا کيدونکي دوستان دي او ايراني چارواکو ته په هيڅ اساس او دود روانه ده چي له افغان مسلمان ملت سره د ناجايزي دښمني سوچونه وکړي او يا د دښمنانو په لمسونه د هغوي پر خلاف وخوځيږي .

ايراني علمأ او اسلام ته مخلص روحانيون بايد په پام کي ولري چي د هغوي چارواکي په کومه لار روان دي ! هندا اوس لبدل کيږي له امريکي سره چي د امام خميني د وينا په اساس لوي شيطان او د ايران دښمن بلل شوي وه د دوستي او ښو اړيکو خداوي کوي او يا له انگريزانو سره د سفارتي اړيکو پرهيتگيدو ټينگار کول او تر دي زيات د امام خميني هغه فتوي ته چي د ملعون سلمان رشدي د وژلو په هکله يي کړي وه شا گرځوي او پر هغي ملنډي وهي !! له روسانو او هندوانو سره،د اسلام پر ضد گډي ستراتيژي خپلوي چي د ايراني چارواکو دا او داسي نور اقدامات ټول د اسلام او مسلمانانو د گټو پر خلاف دي که د ايران علما د خپلو چارواکو دغه کړو وړو ته پوره پام ونکړي او هغوي له دي ناروا لارو څخه منعه نه کړي نو لري نه ده چي د ايران اسلامي جمهوريت بو ځل بيا د اسلام د دښمنانو په لوموکي گير او بيا اسلام او اسلامي علما علته د ټکولو وړ وگرځي، مخکي لدينه چي خداي مکړه داسي وخت را ورسيږي لازمه ده چي دايران علما په ريښتيا سره راوبيږ او د خپلو سرکښو واکدارانو د بي سري مخه ونيسي.

SHARIAT WEEKLY
Published by :
Islamic Emirat of Afghanistan
Chief Editor: Mawlavi Abdul Rahman Ahmad Hotaki,
Editor: Mula Asadullah Hanifi,
Peshawar ,Tel # : 844331-818157-815627
Fax: 816088 Peshawar
Account No : 71-8 Allied Bank of Pakistan LTD
Shopping Plaza KarKhano Peshawar
Printed by: Dawlati Printing Press